## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**24جوزا_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان | صفحه


هلمند کي له ۱۱۸ کورنیو سره مرسته وشوه ---------- 1

بیش از ۳ هزار تن مهاجر مقیم ایران به وطن برگشت نمود ---------- 2

غزني کي له لسګونو کورنیو سره مرسته وشوه ---------- 2

بیش از ۲۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود ---------- 2

بلغاریا کې د کم سنه کډوالو د شمېر ډېروالی: «نه غواړم چې دلته پاتې شم» ---------- 3

یک مهاجر بدون مدرک یک زن را در پاریس از غرق شدن نجات داد ---------- 8

ښي اړخی ته د اروپا بدلون: مهاجر اندېښمن دي ---------- 10

«په فرانسه کی مهاجر په بیره کي دي» ---------- 11

«خلک پوهیږي چي (اې اف ډي) یو ښي اړخه افراطي ګوند دی» ---------- 11

«هر څوک باید خپله ونډه سرته ورسوي» ---------- 11

«د دغو حرکتونو په پیاوړي کیدو سره د ګواښونو کچه هم لوړیږي» ---------- 12

در واژگونی قایق در نزدیکی سواحل یمن ده‌ها مهاجر جان باختند ---------- 12

# متن کامل اخبار

## هلمند کې له ۱۱۸ کورنيو سره مرسته وشوه

د وزارت ويب سايت




**په هلمند ولايت کې د غبرګولي پر دوه ويشتمه ۱۱۸ کورنيو ته نغدي مرسته ووېشل شوه.**

**په دغو کورنيو کې هغه راستانه شوي شامل وو، چې مخکې د هلمند د مهاجرينو چارو ادارې له خوا د نهر سراج په ولسوالی کې ارزمن پېژندل شوي وو او له لوږې سره د مبارزې موسسې له لوري هرې کورنی ته ۲۰ زره او ۱۸۰ افغانۍ مرسته ووېشل شوه.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## بیش از ۳ هزار تن مهاجر مقیم ایران به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت

سه هزار و ۴۳۷ تن مهاجر مقیم ایران به تاریخ ۲۲ جوزا از طریق پل ابریشم ولایت نیمروز طور داو طلب واجباری به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلو مات آمر سرحدی پل ابریشم، از میان افراد مذکورکه شامل خانواده ها ومجردین بودند، ۶۴۰ نفر ایشان نیازمند شناسایی و غرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی ومواد غذایی وغیر عذایی را دریافت کردند.

۵۴ خانواده مطابق طرز العمل امارت اسلامی کمک شد برای ۲۸۰ تن سیمکارت طور رایگان از جانب کمیته های موظف در سرحد توزیع شده است.

و تعداد ۵۶۷ تن از خدمات صحی بهره مند شده اند.

## غزني کې له لسګونو کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



په غزني ولایت کې د غبرګولي پر دوه ویشتمه ۴۰ کورنیو ته نغدي مرسته وویشل شوه.

دغه مرسته په دوو برخو کې ۱۳ زره او ۱۶ زره افغانۍ د ډنمارک د مهاجرت شورا له لوري وه، چې هرې کورنۍ ته د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ادارې له لوري تر ارزمن پیژندلو وروسته وویشل شوه.

## بیش از ۲۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۲۷۵ تن مهاجر افغان به تاریخ ۲۲ جوزا از مرز سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار ۶۲ خانواده شامل ۲۷۵ تن از مرز یاد شده برگشت بعد از ثبت جهت کمک به دفاتر سازمان بین المللی مهاجرت، سازمان جهانی خوراک و کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان معرفی و برای هر خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از طرف امارت اسلامی نیز پرداخت شده است.**

## بلغاریا کې د کم سنه کډوالو د شمېر ډېروالی: «نه غواړم چې دلته پاتې شم»

مهاجرنیوز



**د تېر میلادي کال په جریان کې بلغاریا کې د کم سنه کډوالو او ماشومانو شمېر د پخوا په پرتله زیات شوی دی. ډېری دغه کډوال د افغانستان او سوریې وګړي دي او د بلغاریا په کمپونو یا «خوندي زونونو» کې ساتل کېږي. د کډوالو مدافع بنسټونه بلغاریا کې د کډوالو او په ځانګړې توګه د ماشومانو لپاره د مناسبو تولنیزو او حمایوي امکاناتو پر نشتوالي نیوکه کوي.**

***له بلغاریا څخه ځانګړی راپور***



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**خان آغا او شاهزاده د ووېنا رامپا کمپ پر لور روان دي. هغوی چې په ترتیب سره ۱۶ او ۱۷ کاله عمرونه لري، نن (چهارشنبه، د ۲۰۲۴ د می ۵) د چکر وهلو او سودا اخیستلو لپاره د بلغاریا پلازمېنې صوفیا ته تللي وو. خان آغا وایي» :په کمپ کې موږ ته خواړه راکوي، خو کیفیت یې ښه نه دی«.**

**دغه دوه مهاجر چې د فاریاب اصلي اوسېدونکي دي له شاوخوا یوې اونۍ راهیسې د ووېنا رامپا کمپ د اصلي ودانۍ په درېم پړاو کې اوسېږي چې کم سنه مهاجرو ته ځانګړې شوې دی. دوی چې په ۲۰۲۲ او ۲۰۲۳ کې له افغانستانه وتلي دي، زیات وخت یې په ترکیه کې تېر کړی او د خپل سفر د ادامه ورکولو لپاره یې هلته په یوه فابریکه کې کار کاوه.**

**اووه لس کلن کامران یو بل افغان کډوال دی چې له خپلو دوو ملګرو سره یو ځای د ووېنا رامپا کمپ څخه د وتلو په حال کې دی . دغه کمپ چې کډوال د ورځې له ۹ څخه د شپې تر ۶ بجو پورې ترې د وتلو اجازه لري، د بلغاریا د صوفیا ښار په حومه سیمه کې پروت دی. کامران د خان آغا او شاهزاده په څېر څو میاشتې په ترکیه کې تېرې کړې دي او د دغه هېواد له لارې یې ځان بلغاریا ته رسولی دی. نوموړی ووېنا رامپا کمپ کې د خوړو د خراب کیفیت او کموالي څخه شکایت کوي او وایي چې کمپ کې یوازې یو ډاکټر شته چې د ټولو ناروغیو لپاره یوه ګولۍ ورکوي.**

**دا هم ولولئ**

**<u>د بلغاریا پلازمېنه صوفیا کې د ډوبلین پروسیجر لاندې کډوال: »له ژونده تنګ راغلی یم«</u>**



**خان آغا او شهزاده د ووېنا رامپا کمپ پر لور روان دي. انځور: کډوال نیوز**

**تېر کال نږدې ۴۰۰۰ ماشومان بلغاریا ته رسېدلي**

**د بلغاریا د کډوالۍ اژانس د شمېرو له مخې، د ۲۰۲۴ له جنورۍ څخه تر اپریل پورې ۳۵۸ کم سنه او بې سرپرسته کډوال دغه هېواد ته رسېدلي دي چې ډېری یې افغانان او مصریایان دي. دغو کډوالو کې یو شمېر مراکشیان، عراقیان او پاکستانیان هم وو.**

**په ۲۰۲۳ کې هم د بالکان په دغه هېواد کې د کم سنه کډوالو په شمېر کې د پام وړ ډېروالی راغلی و. د رسمي شمېرو له مخې، د ۲۰۲۳ له جنورۍ څخه تر ډېسمبر میاشتې پورې نږدې ۲۲۵۰۰ کډوال بلغاریا کې د پناه غوښتنه کړې چې تر ۱۲۲۰۰ زیات یې سوریایان او شاوخوا ۳۹۰۰ تنه یې افغانان وو. په دغو کډوالو کې ۳۸۲۷ کم سنه او بې سرپرسته کسان هم شامل وو.**

**د یادو کم سنه کډوالو له ډلې ۱۹۸۹ تنه یې له سوریې او ۱۶۰۶ تنه نور یې له افغانستان څخه راغلي وو .همداراز ۴۰۰ کډوالو تر ۱۴ کلونو ټیټ عمرونه خو ۲۴۱۶ تنو نورو بیا له ۱۶ څخه تر ۱۷ کلونو پورې عمرونه درلودل. یادو مهاجرو کې ۹۴ بې سرپرسته نجونې هم وې. د دغو کسانو له ډلې ۲۹۰ تنو یې جانبي حفاظت ترلاسه کړی او یوازې ۳ تنه یې د کډوالو په توګه پېژندل شوي وو.**

**بلغاریا کې د کاریتاس سازمان د کډوالۍ او ادغام څانګې په یو راپور کې راغلي دي چې په صوفیا کم سنه کډوال د اوچا کوپل او ووېنا رامپا په دوو پرانیستو مرکزونو کې اوسېږي او په دې وروستیو کې یو بل مرکز یا «خوندي زون» چې په یو وخت کې د ۹۸ کسانو د ځایېدو وړتیا لري او د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداري او یونیسف له خوا اداره کېږي په هرمانلي ښار کې پرانیستل شوی دی. د راپور له مخې، یاد سازمان په ۲۰۲۳ کې صوفیا او هرمانلي کې ۴۰۰ کم سنه او بې پرسته کډوالو ته زدکړیز پروګرامونه جوړ کړي دي.**



هرمانلي کې د کم سنه کډوالو لپاره نوی خوندي زون. انځور: مېشن وېنګز

د کاریتاس سازمان مشره تسویتومیر دومانوف وايي چې دوی د سنت آنا مرکز کې له کډوالو سره حقوقي او قضايي برخو کې مرسته کوله او همدارنګه د ژبې د زدکړې زمینه ورته برابروله، خو دغه پروژه په اپریل میاشت کې پای ته ورسېده او د کورنیو چارو وزارت یې له تمدید څخه ډډه وکړه.

دومانوف زیاتوي: «موږ لا هم د کډوالو په کمپونو [اوچا کوپل او ووبنا رامپا] کې فعالیت کوو. له دې وړاندې مو هلته رسمي کارکوونکي درلودل، خو اوس چې له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان یو نو له رضاکارانو سره کار کوو. هغه کم سنه مهاجر چې یادو کمپونو کې ځای پر ځای شوي دي زدکړیزو او تفریحي پروګرامونو ته اړتیا لري«.

»ملي مکانیزمونو کې جدي بدلون» او سیاسي اراده

صوفیا کې د وایس حقوقي مرکز مشره دیانا رادوسلاووا په ۲۰۲۳ کې د کم سنه کډوالو د شمېر د زیاتېدو او همدارنګه هرمانلي کې د نوي «خوندي زون» د پرانیستو خبر په تاییدولو سره وايي: «دغه مرکزونه باید وروستی ګزینې وي، په ځانګړې توګه د کم سنه مهاجرو او د هغو ماشومانو لپاره چې له ۱۳ یا ۱۰ کلونو څخه ټیټ عمرونه لري. دوی باید د بلغاریا د ماشومانو د ساتنې سیستم له امکاناتو څخه برخمن شي او که کومه بله لاره پاتې نه شوه خوندي زونونو ته واستول شي«.

**نوموړې تېنګار کوي چې دغه ماشومان چې ډېری يې افغانان او سوريايان دي بايد کوربه کورنيو ته واستول شي او له ټولو هغو حقونو او خدماتو څخه برخمن شي چې ماشومانو ته ځانګړي شوي دي. په وينا يې: «حکومت ته په کار ده چې [دې برخه کې] د بلغاريا په ملي مکانيزمونو کې جدي بدلون رامنځته کړي«.**

**د بلغاريا په هرمانلي ښار کې د «مېشن وينګز» سازمان مشره ديانا ديمووا د دې نظر په تاييدولو سره وايي چې د کم سنه کډوالو مسلې ته بايد جدي پاملرنه وشي. «مېشن وينګز» هغه يوازنی سازمان دی چې د هرمانلي مهاجر کمپ ته لاسرسی لري او هلته په اونۍ کې څلور ځله کم سنه او بې سرپرسته مهاجرو ته ورزشي پروګرامونه جوړوي.**

**ديانا ديمووا وايي: «دغه کمپ کې د ماشومانو خوندي زون په می مياشت کې پرانيستل شو او په پيل کې څه باندې ۵۰ کډوالو ته پکې ځای ورکړل شو، خو اوس يې شمېر زيات شوی دی. موږ ورته د فوټبال په ګډون بېلابېل ورزشي پروګرامونه جوړوو«.**



**هرمانلي کمپ کې يوه نوې ودانۍ کم سنه کډوالو ته ځانګړې شوې ده. انځور: کډوال نيوز**

**د کډوالو د حقونو دغه مدافعه ټينګار کوي چې کمپونه يا «خوندي زونونه» بايد د وروستي الترناتيف په توګه وکارول شي او ماشومان بايد کوربه کورنيو ته لاسرسی ولري. خو ايا بلغاريا کې کوربه کورنۍ شته؟ ديانا ديمووا وايي: «کم سنه کډوال غواړي چې کوربه کورنيو کې ژوند وکړي، خو يو شمېر کورنۍ شک او ترديد لري. په دې برخه کې جدي پاليسيو ته اړتيا شته. دا د ادغام لپاره يوازنۍ لار ده. لاره اوږده ده خو سياسي او ټولنيزې ارادې ته اړتيا لري«.**

»د کډوالۍ ضد سیاستونه» او د کډوالو لادرکه کېدل

د بشري حقونو تقریباً ټول سازمانونه بلغاریا کې د ادغام د سیستم د نشتوالي په اړه یو نظر لري. د مولتي کولتي ټولنې مشره بیسترا ایوانووا چې کډوالو ته بېلابېل فرهنګي پروګرامونه جوړوي وايي چې دولت د ادغام په برخه کې هېڅ ډول برنامې نه لري. همدارنګه د کاریتاس مشر تسویتومیر دومانوف په دې آند دی چې «حکومتونو تل د کډوالۍ ضد سیاستونه درلودل او نه یې غوښتل چې مهاجر په دغه هېواد کې پاتې شي، له همدې امله بلغاریا کې د کډوالو د ادغام لپاره دولتي خدمات نشته.«

دا حالت د دې سبب کېږي چې ډېری کډوال بلغاریا ته د یو ترانزیټ هېواد په سترګه وګوري او د سختو او خطرناکو لارو سربېره لوېدیځې اروپا ته د رسېدو هڅه وکړي.

صوفیا کې د وایس حقوقي مرکز مشره دیانا رادوسلاووا په دې اړه وايي: «د کډوالو او په ځانګړې توګه د ماشومانو لادرکه کېدنه یوه جدي مسله ده. دا د اندېښنې وړ خبره او یو لوی مسولیت دی«.

د «مېشن وېنګز» سازمان مشره دیانا دیمووا. انځور: کډوال نیوز

هرمانلي کې د «مېشن وېنګز» سازمان مشره دیانا دیمووا هم د دې مسلې په اړه اندېښنه څرګندوي. هغه وايي: «دا چې بلغاریا ترازیټ هېواد دی یوه مسله ده او دا چې ماشومان ورکېږي بله مسله. بلغاریا ته رسېدلي یو شمېر ماشومان څه موده وروسته لادرکه کېږي او هېڅوک نه پوهېږي چې دوی چېرې دي. موږ د کډوالو د مړینې یو شمېر قضیې درلودې، خو د زیاتو کسانو برخلیک نامعلوم دی«.

خان آغا او شاهزاده وايي چې تر اوسه یې بلغاریا کې د پاتې کېدو او یا نورو اروپایي هېوادونو ته د تلو پرېکړه نه ده کړې. دغه دوه مهاجر د ډوبلین مقرراتو په اړه اندېښمن دي او وايي چې که چېرې کوم بل هېواد ته لاړ شي، ښايي د ډوبلین د قواعدو پر اساس بېرته بلغاریا ته واستول شي.

کامران بیا په دې اړه بل نظر لري. هغه وايي: «زه په بلغاریا کې نه پاتې کېږم. موخه مې د صربیا له لارې جرمني ته تلل دي.» دغه اووه لس کلن کډوال پوهېږي چې لاره سخته او خطرناکه ده، خو په وینا یې په بلغاریا کې راتلونکی نه لري» :زه تر ۱۸ کلونو پورې ټیټ عمر لرم او ډاډه یم چې له جرمني څخه نه شړل کېږم

## یک مهاجر بدون مدرک یک زن را در پاریس از غرق شدن نجات داد

مهاجرنیوز



یک جوان الجزایری بدون مدرک هفته گذشته یک زن فرانسوی را از غرق شدن در کانال له ویلت، در شمال شرق پاریس، نجات داد. زن تلاش داشت سگ خود را که در آب افتاده بود از غرق شدن نجات دهد اما خودش در آب گیر افتاد.

به گزارش روزنامه لوپاریزین، هفته گذشته یک جوان الجزایری ۱۸ ساله و بدون مدرک، یک زن فرانسوی ۵۰ ساله را از غرق شدن در کانال له ویلت در شمال شرق پاریس نجات داد.

بنابر گزارش، بعد از ظهر روز ۳ جون، خانم یاد شده با دوستش در یک کافه نشسته بود که سگش، بعد از روبرو شدن با یک سگ دیگر در جاده، ترسید و هنگام عقب رفتن، به داخل کانال افتاد.

در گزارش آمده است که سگ در داخل آب به راحتی شنا می‌کرد اما در قسمتی که سیستم پمپ آب کانال نصب شده، گیر افتاد و نزدیک بود که در اثر فشار هوا بلعیده شود.

زن صاحب سگ که شنا بلند بود، برای نجات حیوان خود را به آب انداخت اما او نیز با فشار هوای پمپ مواجه شد و در آن گیر افتاد.

روزنامه نوشته که نواری، جوان الجزایری که روی سبزه‌های نزدیک کانال خوابیده بود، با شنیدن فریاد زن در حال غرق شدن و دوستش که کمک می‌خواست، بیدار شد و بلافاصله خود را به آب انداخت تا زن را نجات دهد. او موفق شد با کمک چند تن دیگر، زن را از آب بیرون کند اما سگ در این رویداد ناپدید شد.

**در همین زمینه**
**<u>فرانسه: سه جوان افغان یک زن را از غرق شدن نجات دادند</u>**

**ماموران امدادی نواری و زن را برای مراقبت‌های صحی به شفاخانه انتقال دادند و از جوان الجزایری قدردانی کردند.**

**زنی که در این رویداد از غرق شدن نجات یافت، میشل نام دارد. او بعدتر به رسانه‌ها گفت: «کاش کسی بتواند برای یافتن کار و سرپناه به او [مهاجر الجزایری] کمک کند. او زبان فرانسوی را به خوبی نمی‌داند اما کارهای زیادی بلد است«.**

**او گفت امیدوار است که مقام‌ها به دلیل اقدام قهرمانانه‌اش به او کارت اقامت بدهند.**

**با پیروزی احزاب راست افراطی فرانسه در انتخابات پارلمانی اروپا و انحلال پارلمان فرانسه، داستان این جوان الجزایری در رسانه ها انعکاس نیافت.**

**این در حالیست که در سال ۲۰۱۸ یک مهاجر جوان تبعه مالی، برای نجات یک کودک از یک بالکن از دیوار ساختمان بالا رفت و کودک را نجات داد. ویدئوی مربوط به این رویداد در در صفحات اجتماعی دست به دست شد و بعد از اینکه امانوئل ماکرون رئیس جمهور فرانسه با و دیدار کرد، مقامات به او کارت اقامت دادند.**

## ښي اړخی ته د اروپا بدلون: مهاجر اندېښمن دي

دویچه وله



د اروپا په پارلماني ټاکنو کې ستري لاس ته راوړني، په فرانسه کې نوي انتخابات او د آلمان په ختیځ کې د ښي اړخي ګوند AfD تر ټولو پیاوړی ځواک. د اروپا ښي اړخي برياليتوب او مهاجر په ټولنه کې د خپل موجوديت په هکله اندېښمن دي.

د اروپا د پارلمان په ټاکنو کې په فرانسې کې د (ملي اتحاد) په نوم ښي اړخي ګوند ۳۱ سلنه رايي ګټلي دي او په دې ډول يې د اوسني ولسمشر ايمانوئل ماکرون د ګوند په پرتله د رايو شمير څه د پاسه دوه برابر ه سو. ماکرون د نوو پارلماني ټاکنو اعلان وکړ.

په داسي حال کې چې په اروپا کې ډېر کسان له دې امله اندېښمن دي چې د مارينه لي پين، ګوند به د ماکرون د حکومت په دوام ورروستيو دورو کې حکومت جوړ کړي، خو يوه بله ډله په ځانګړې توګه اندېښمنه ده: مهاجر او د هغوی اولادونه.

»په فرانسه کی مهاجر په بيره کي دي«

راجا علی اصغر، ۳۵ کاله مخکي له پاکستانه پاريس ته مهاجر سوی دی او اوس په فرانسه کي د پاکستان- مسلمانانو د اتحاديې مشري پرغاړه لري.

نوموړي دويچه ويله ته وويل:«هغه مهاجر چي په فرانسه کي اوسيږي خپل د راتلونکي په اړه اندېښمن دي. ښي اړخه پيپوليست ګوندونو تل د مهاجرت ضد نظرونه درلودل. د هغوی تر حکومت لاندي به د مهاجرو ستونزي لاپسي زياتي سي«.

نوموړی د کار په بازار او ټولنيزو مرستو ته د لاس رسي په برخه کي له مهاجرو سره د تبعيض په هکله اندېښمن دی. راجا علی اصغر وايي:«زما په فکر په راتلونکو کلونو کي به په اروپا کي د مهاجرو ستونزي زياتي سي«.

ستار علی سومن، چي په پاريس کي څو رستورانتونه لري او ۲۴ کاله مخکي له بنګله ديش څخه رامهاجر سوی، هم ورته نظر لري: «هرڅوک په دې پوهيږي چي ښی اړخه سياسي ګوندونه مهاجر او په تيره بيا مسلمانان نه خوښوي.» سومن دويچه ويله ته وويل: «په فرانسه کي مهاجر د راتلونکو ورځو له امله په بيره کي دي«.

»خلک پوهيږي چي (اې اف ډي) يو ښي اړخه افراطي ګوند دی«

په آلمان کي د انتخاباتو په بهير کي هيڅ بل ګوند دومره ډيري رايي نه دي ګټلي لکه (اې اف ډي) ګوند چي د استخباراتي ادارې له خوا په ټول هيواد کي د شکمن ښی اړخه افراطي او د آلمان د ختيځ په درو ايالتونو کي يې حتی د تائيد سوي ښی اړخه افراطي ګوند په توګه درجه بندي کيږي.

دا کار په آلمان کي ډېر خلک اندېښمن کړي دي، لکه په دغه هيواد کي د مسلمانانو د مرکزي شورا مشر اَيمان مازيک. نوموړي له دويچه ويله سره په مرکه کي وويل: «نه يوازي د مهاجرو، بلکي د ډيموکراسی له پاره يوه ستونزه موجوده ده. ياد ګوند حداقل د آلمان په ختيځ کي يو «اولسي ګوند» دی. زه نه غواړم د معترضو رايه ورکوونکو افساني له سره واورم. هغوی له ايديالوژيکي پلوه بدل سوي دي او په دې ښه پوهيږي چي دا يو افراطي ښی اړخه ګوند دی«.

»هر څوک بايد خپله ونده سرته ورسوي«

د اروپا پارلمان د ټاکنو ورځ له هغي ورځي سره سمون درلود چي ۲۰ کاله مخکي د جرمني د کولن ښار په کيوپ شتراسه کي په ميخونو ډک بمي بريد وسو چي له امله يې ۲۲ کسان ټپيان سوي او د ډيرو حالت د اندېښني وړ وو.

څو کاله وروسته بيا پلټونکو د دغي پيښي اړيکه له ښی اړخه افراطي ترهګر ګروپ NSU سره کشف کړه، چي تر دغي پيښي مخکي او وروسته يې د نژاد پالني د انګيزې په درلودلو سره په مجموعي ډول لس تنه وژلي دي.

د «ملي تبعیض او نژادپالني» په نوم د څېړنیزې پروژې مشر جیهان سینان اوغلو، په ایکس پاڼه کي لیکلي دي: «دا چي په دغه ورځ د AfD ګوند دوهم ستر ځواک وګرځید، د نه زغملو یو حقیقت دی«.

میرال شاهین، بیا په کویپ شتراسه کي یو دوکان لري. د اروپا ترانتخاباتو وروسته هغه دویچه ویله ته وویل: »دا د سختي اندېښني خبره ده چي څرنګه اروپا د ښی اړخو خواته پرمختګ کوي. دا به زموږ له پاره په څه معنی وي؟ ډېرو ته دا هر څه نامعلوم ښکاري.« په کویپ شتراسه کي هغې هڅه وکړه خپله ونډه ادأ کړي او خبرداری یې ورکړ چي: »ډېر نور کسان هم باید ورته کار وکړي، هر څوک باید خپله ونډه ادأ کړي».

»د دغو حرکتونو په پیاوړي کیدو سره د ګواښونو کچه هم لوړېږي«

د آلمان له پاره بدیل (اې اف ډي) ګوند د یوې پټي لیدني کتني په هکله چي پکښې د مهاجرو د اخراج په اړه خبري سوې وې، تر یوه رپوټ وروسته پرې سخت انتقادونه وسول.

په جرمني کي د تور پوستو له ټولني څخه طاهر دیلا، انتقاد کوي چي د مهاجرو د ټولنو اندېښنو ته کافي جواب نه ورکول کېږي : »برعکس خلک د انتخاباتي حوزو، د باور او په نتیجه کي د قدرت د له لاسه ورکولو له امله په اندېښنه کي دي«.

دیلا، وایي اصلي اندېښنه داده: «کله چي دغه حرکتونه قدرت په لاس راوړي نو د تور پوستو مهاجرو له پاره د ګواښونو کچه به هم لوړه سي«.

په دا وروستیو کي د جرمني پولیسو او د قربانیانو مشورتي دفترونو د سیاسي انګیزې لرلو ښی اړخو، په تیره بیا د راسیستي او یهودیت ضد دلایلیو له امله د زورزیاتیو له زیاتوالي څخه خبرداری ورکړی دی

## در واژگونی قایق در نزدیکی سواحل یمن دهها مهاجر جان باختند

دویچه وله




**سازمان بین‌المللی مهاجرت اعلام کرد که یک قایق حامل مهاجران در نزدیکی سواحل یمن غرق شد که در نتیجه آن نزدیک به ۵۰ تن جان باخته و ۱۴۰ تن دیگر ناپدید اند.**

**طبق معلومات ملل متحد در نتیجه واژگونی یک قایق در نزدیکی سواحل یمن دست کم ۴۹ تن جان خود را از دست دادند و ۱۴۰ تن دیگر ناپدید شده اند.**

**سازمان بین‌المللی مهاجرت «آی او ام «روز سه شنبه با نشر اعلامیه‌ای گفته است که این قایق با ۲۶۰ سرنشین روز دوشنبه غرق شده است. به گفته این سازمان، ۷۱ تن از سرنشینان قایق تا حالا نجات یافته اند، اما ۱۴۰ تن دیگر هنوز ناپدید اند.**

**در همین زمینه**
**<u>یونان: مرگ یک مهاجر در تصادف میان قایق مهاجران و کشتی نگهبانان ساحلی</u>**

**سازمان بین‌المللی مهاجرت معلومات نداده است که این مهاجران از کدام کشورها بوده اند. به گفته این سازمان، نجات یافته‌گان این رویداد «کمک‌های فوری» دریافت کردند.**

**سالانه هزاران تن از کشورهای دچار منازعه، فاجعه‌های طبیعی و بحران‌های اقتصادی در افریقا در جستجوی یک زندگی بهتر تلاش می‌کنند با عبور از بحیره سرخ خود را به عربستان سعودی و یا دیگر کشورهای خلیج برسانند. در ماه اپریل در طی دو هفته ده‌ها سرنشین دو قایق در نزدیکی سواحل جیبوتی جان باختند.**

**بر بنیاد معلومات سازمان بین‌المللی مهاجرت از سال ۲۰۱۴ تا ۲۰۲۳ میلادی ۱۳۵۰ نفر در مسیر مهاجرت جان خود را از دست دادند.**

**مقامات ملل متحد ماه گذشته اعلام کردند که با وجود خطرات زیاد، شمار پناهجویان تازه وارد به یمن از «۲۰۲۱ تا ۲۰۲۳ چهار برابر شده و از ۲۷ هزار به بیش از ۹۰ هزار تن افزایش یافته است«.**

**در همین زمینه**

**<u>گئو بارنتس از مرگ چندین مهاجر در بحیره مدیترانه خبر داد</u>**

**این مهاجران اکثراً هنگام ورود به یمن با خطرات بیشتری مواجه می‌شوند، چرا که در این کشور از یک دهه به این سو جنگ داخلی جریان دارد.**

**سازمان دیده‌بان حقوق بشر سال گذشته محافظان مرزی عربستان سعودی را متهم کرد که در بین ماه‌های مارچ ۲۰۲۲ و جون ۲۰۲۳ «دست کم یک صد مهاجر اتیوپیایی» را که تلاش داشتند خود را از یمن به این کشور برسانند، کشته اند. ریاض این اتهامات را «بی‌اساس» خواند و رد کرد.**

خبرنامه